# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد — بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم — از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com — afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



یونس نگاه
۳۰ سپتمبر ۲۰۲۳




**یونس نگاه**

# پاکستاني استادان او د افغانستان پوهنتونونه

د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت سرپرست شېخ ندیم، چې د پوهنتونونو د استادانو په سپکاوي او ځورولو کې مشهور دی، په کابل کې د پاکستان سفارت له مسوولانو غوښتي، چې پاکستاني استادان د تدریس لپاره افغانستان ته واستوي. شېخ ندیم په وار وار د لوړو زده کړو برخه کې د «اصلاحاتو» خبره کړې او تر ده وړاندې شېخ عبدالباقي حقاني هم د افغانستان د پوهنتونونو د کادرونو لپاره د فضا د تنګولو هڅې کړې وې. د دوی د «اصلاحاتو» پایله د سلګونو استادانو تېښته او ګوښې کېناستل، د زرګونو محصلانو د تحصیل پرېښودل او محرومیت او د ټولو نجونو او هلکانو د لوېې برخې پر مخ د پوهنتونونو د دروازو تړل دي. په تېرو دوو کلونو کې یوازې د کابل پوهنتون څه باندې څلور سوه استادان هېواد پرېښی دی. ځینې خلک د طالبانو د محدودیتونو او سپکاویو له قفسه د وتلو لپاره د فرصت په لټه کې دي. البته، ټول هغه کسان چې په پوهنتونونو کې د تدریس وړتیا لري، له هېواده نه دي وتلي. د خصوصي لوړو زده کړو د بازار په کوچني کېدو، د غیر طالباني دفترونو او بنسټونو په تړل کېدو او له دولتي پوستونو د ګوښه کېدو له امله ډېری دغه استادان په کور ناست دي او یا د خپلې تحصیلي څانګې پر خلاف برخه کې کار کوي.

په دې کې شک نشته چې په پاکستان کې ډېر تجربه لرونکي او پوه استادان شته؛ داسې استادان چې د افغانستان په پوهنتونونو کې به یې حضور غنمیت وي. خو ایا هغه پاکستاني استادان او علمي کادرونه چمتو دي چې له طالبانو سره همکاري وکړي او د دې ډلې تر تور بیرغ لاندې او په داسې ځای کې چې جنسیتي تبعیض حاکم دی او د غیر ملایي تجربوي او انساني علومو پر وړاندې تعصب موجود وي، کار وکړي؟ زموږ د ټولنې په څېر پاکستان هم طالباني – استخباراتي عناصر لري او په عین حال کې ازادي غوښتونکي او پر علم باور لرونکي کسان لري. د لاهور او د هغې خاورې د ځینو نورو سیمو ښوونکي په افغانستان کې د عصري زده کړو د ترویج په لومړیو کلونو کې د ښوونې او روزنې د ډېوې لېږدوونکي وو او زموږ ملت به په هېواد کې د ښوونځیو د جوړېدو د لومړۍ څپې په پرمختګ کې د هغوی ونډه هېره نه کړي. خو اوس د پاکستاني ټولنې او زموږ د ولس تر منځ اړیکې د طالبانو د روزنې د استخباراتي

کانال له لارې مديريت کېږي او يوازې تور فکره کسان، استخباراتي اجنټان او د طالبانو هغه ملګري چې د ښوونځي ضد او ازادۍ ضد دي، کولای شي افغانستان ته راشي او خپل ماموريت ترسره کړي. هغه کسان چې شېخ نديم د پاکستان له سفارته غوښتي دي چې د افغانستان پوهنتونونو ته د تدريس لپاره راشي، د پاکستان د روښانفکرانو په نيمايي پورې اړوند نه دي، چې د هغو روښانفکرانو او استادانو تشه ډکه کړي چې له وطنه جلا شوي او اېستل شوي ، د لوړو زده کړو د نيم ژواندي حالت د بشپړ سقوط مخه ونيسي او د پاکستان ارزښتناکې علمی تجربې افغانستان ته راولېږدوي.
د طالبانو ډله د پاکستاني استادانو د استخدام په نامه د استخباراتي اجنټانو، د افراطيت د مبلغانو او د افغانستان د اړ ساتلو د ملاتړو د حضور زمينه برابروي. طالبان خپلو پاکستاني سيالانو ته، لاهوري او پېښوريو شيخ نديمانو ته چې د پاکستان په پوهنتونونو کې ځای نه لري، د فعاليت لاره هواروي، څو پرې يوې لويې حقانيه مدرسې د افغانستان په بدلولو کې ونډه واخلي.
د دغه تياره جريان مديران او مشران ښايي اوس وخت د ځان په ګټه ويني او د ليرې راتلونکي او د افغانستان د زيرمو د اوږدمهاله انحصار په اړه فکرونه کوي، خو د دغو خيالونو پای معلوم دی. له حقانيه مدرسې د بېلګې په اخيستو سره نه شي کيدای چې د اوږدې مودې لپاره هېواد اداره کړای شي، اداري يې په ملاخانو او پوهنتونونه يې د طالبانو په حجرو بدل شي. دا ورانۍ به ډېر ژر د چاودني پړاو ته ورسېږي او هغه خامې خښتې چې شيخ نديم، شيخ حقاني او د هغوی ملګري يې د منځنيو پيړيو د هيلو د پوره کولو لپاره يو پر بل ږدي، ړنګې او لوټې شي.
موږ د افغانستان او د هغه د ټولو ګاونډيانو په ځانګړې توګه د پاکستان د ملت ترمنځ رغنده اړيکې او متقابلې همکارۍ خوښوو. هيله لرو چې يوه ورځ د افغانستان پوهنتونونه د پوهو او تجربه کارو پاکستاني استادانو د حضور شاهدان وي او همداسې افغان استادان د پاکستان په پوهنتونونو کې تدريس وکړي، د دواړو هېوادونو تحصيلي او څېړنيز مرکزونه ګډ کار وکړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ اړيکې لا ټينګې شي. خو دا کار هغه وخت ممکن نه دی چې د پاکستان حکومت خپل استخباراتي او امنيتي تور مخ زموږ د هېواد پر لور را اړولی او مزدورې ډلې يې افغانستان د استعدادونو او فرصتونو په وژنځي بدل کړی دی.